د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدماتو آمریت

آمـــریت بانکداری و خدمات مالی اسـلامی

DA AFGHANISTAN BANK

د افغانستان بانک

شماره : ۱۱۳۴۳ - ۹۸۰۷ / ۹۸۱۴

تاریخ: ۱۴۰۰/۱۰/۸ ۱۰۳۷۱

**د افغانستان اسلامي بانک او د متعارفو بانکونو اسلامي کړکیو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته وبعد

<u>موضوع: **د اسلامي تمویلاتو او پانګونې د صنفبندۍ او مهالویش تمدید او د جریمو ځنډول**</u>

د درناوي په وړاندې کولو سره،

**ماهیت: متحد المال**

روان اقتصادي وضعیت او د بانکونو ستونزو ته په کتو او د شرعي اصولو د رعایت په موخه د افغانستان بانک، د اسلامي تمویلاتو/ پانګونو د صنفبندۍ او مهالویش او جریمو په اړه اسلامي بانک او د متعارفو بانکونو اسلامي کړکیو ته د افغانستان بانک د ۱۱۰۶۸/۹۵۹۰ ګڼې او ۱۴۰۰/۹/۳۰ نیټې متحدالمال په تعقیب لاندې لارښوونې کوي:

1. اسلامي بانک یا اسلامي کړکۍ کولای شي هغه تمویلات چې د ۲۰۲۱/۷/۱ نیټې په اساس په کومه صنفبندۍ کې وُو د ۲۰۲۲/۶/۳۰ نیټې پورې په هماغه صنفبندۍ کې وساتي. د متصرف شویو شتمنیو په اړه دې هم ورته اقدامات ترسره شي.

2. اسلامي بانک یا اسلامي کړکۍ کولای شي د مرابحو د تمویلاتو مهالویش کې چې بیه یې له وړاندې ټاکل شوې وي له سره بیا کتنه وکړي، یا یې د ادایني موده وغځوي. بانکونه نشي کولای د مرابحې د قسطونو د مودې د غځیدو په بدل کې حتی د مشتري د رضایت سره هم، په دین او یا ګټه/فایده کې زیاتوالی راولي. د موجوده بیو لوړول د قسطونو د مودې د غځیدو په بدل کې ربا الدیون ګڼل کېږي چې په کلکه منع دي.

3. اسلامي بانک یا اسلامي کړکۍ نشي کولای د اجارې په عقودو او تمویلاتو کې د تیرو میاشتو کرایې د ادایني د ځنډ په بدل کې ډیرې کړي. بانکونه کولای شي چې د مستأجر سره د موافقې په اساس او د بازار وضعیت ته په کتو سره د راتلونکو میاشتو کرایه کې کموالی یا زیاتوالی راولي.

4. اسلامي بانک یا اسلامي کړکۍ کولای شي د مشتري مالي وضعیت ته په کتو په مشارکه متناقصه تمویلاتو کې د واحدونو پلورل او پیرل وځنډوي، د مشارکې متناقصې موده وغځوي او د بازار وضعیت ته په کتو په کرایه کې کموالی یا زیاتوالی راولي. بانکونه نشي کولای چې د مشارکې متناقصې د تمویلاتو د تیرو میاشتو کرایې د ادایني د ځنډ په بدل کې ډیرې کړي.

5. اسلامي بانک یا اسلامي کړکۍ کولای شي د مشتري مالي وضعیت ته په کتو د مشارکو/ جاري مشارکو د قراردادونو مهالویش تمدید کړي او د موافقې په اساس پر شروطو او نورو جزیاتو کې ددې متحدالمال په رڼا کې تجدید نظر او بیا کتنه وکړي.

6. پر اسلامي تمويلاتو باندې د ادايني د ځنډ د جريمو وضع کول دې د کوچنيو او متوسطو شرکتونو (MSMEs) او نورو متاثره شويو سکتورونو او افرادو لپاره د ۲۰۲۲ کال د جون د مياشتې تر ۳۰ نيټې پورې وځنډيږي.

پورتنۍ لارښوونې اوسني وضعيت ته په کتو سره ترتيب شوې دي. دافغانستان بانک به ددې متحدالمال وضع شويو شرايطو ته وخت په وخت بيا کتنه وکړي.

اسلامي بانک يا اسلامي کړکۍ بايد په نورو اړوندو مسايلو کې د افغانستان بانک اړوندو مقرراتو، لارښودونو، متحد المالونو، د بانکونو د شريعه بورډ پريکړو او د اړتيا په صورت کې د AAOIFI معيارونو ته مراجعه وکړي.

په درنښت

عبدالقدير احمد

دافغانستان بانک دوهم مرستيال

کاپی:

۱- د بانکونو د څارنې محترم آمريت

۲- د افغانستان د بانکونو اتحاديه

بانک اسلامی - کابل بانک - رغنا اسلامی بانک - AIB - ميوند بانک - غضنفر بانک و بانک ملی افغان

۱۴۰۰/۱۰/۷